**مطبوعاتي اعلاميه**



**د خلافت په اړه د حزب التحرير۔ ولايه تونس کلنی کنفرانس**

د خلافت د ړنګېدو د ۱۰۱مې کليزې او د هغه د بيا تاسيس لپاره د هلو ځلو د ګړنديتوب په مناسبت، چې مسلمانان يې تر چتر لاندې د عزت له لوړو پوړيو څخه برخمن کېدای شي او خپل ورک شوی غرور، وقار او د بشريت رهبري بېرته تر لاسه کولای شي. حزب التحرير۔ ولايه تونس خپل کلنی کنفرانس تر دې سرليک لاندې جوړوي:

**"د حزب التحرير اقتصادي ليدلوری"**

په دې کنفرانس کې به د بېلا بېلو هېوادونو روڼ اندي کسان، د نظر خاوندان او د کارپوهانو يوه ډله برخه واخلي او له دې لارې به د اقتصادي ناورين سره د مبارزې لپاره بنسټيزې حلارې وړاندې کړي، چې خلک او دولت ګواښي. له همدې لارې به حزب تاييد کړي، ترڅو د خلافت دولت، چې حزب التحرير يې د تاسيس لپاره کار کوي د سرپرست او فلاح دولت په توګه معرفي کړي، خلافت د خلکو لپاره د بنه ژوند او اساسي اړتياوو د پوره کولو لکه کور، خواړو او جامو مسووليت پرغاړه اخلي. د روغتيا، امنيت او زده کړې په برخه کې د خلکو اساسي اړتياوې پوره کوي. د خلافت دولت د مالياتو راټولول د تونس له دولت سره په بشپړ ډول توپير لري، د

تونس اوسنی اقتصادي سیستم د یدن او سیاست د جلا کولو له مفکورې څخه رامنځ ته کیږي، چې د تونس ډیری خلک یې د بېوزلۍ، ناروغۍ او بې‌کارۍ سره مخ کړي دي.

کنفرانس به دری برخې ولري او حزب التحریر به پکې لاندې اقتصادي لیدلوری وړاندې کړي:

**لومړۍ برخه:**

۱. په نړۍ کې اقتصادي ناورین او لوړې بیې؛

۲. په تونس کې د اقتصادي ناورین عمومي او ځانګړې لاملونه؛

۳. په تونس کې د اقتصادي ناورین پایلې؛

**دویمه برخه:**

۱. اقتصادي ستونزې؛

۲. په اسلام کې د اقتصاد سیاست؛

۳. اسلام څنګه بېوزلي له منځه وړي؛

۴. اقتصادي پراختیا: د هیواد صنعتي وده؛ په اسلام کې د کرنې پالیسي فعالول او سوداګرۍ ته هڅول؛

**دریېمه برخه:**

۱. په تونس کې پراخه شتمني او امکانات؛

۲. د صنعتي او کرنې د کفایت پر بنسټ د تولیدي پروژو بودیجه او تمویل؛

۳. د بې‌کارۍ لپاره د اسلام حلاره؛

۴. د اسعارو په اړه د اسلام نظر؛

انشاءالله دغه کنفرانس به د ۱۴۴۳هـ.ق کال، د ذوالحجې په ۲٦مه، چې د ۲۰۲۲م کال، د جون له ۲۵مې سره سمون لري، د شنبې ورځ، د سهار په ۱۰:۰۰ بجو د تونس په پلازمېنه، د سوکره آریانا څلور لارې کې جوړ شي او د الواقیة ټلویزیوني چینل څخه به په ژوندۍ بڼه خپرېږي.

موږ د حزب التحریرـ ولایه تونس مطبوعاتي دفتر، په عمومي توګه ټولو مسلمانانو او په ځانګړې توګه د تونس او نورو مسلمانو هېوادونو د رسنیو متخصصینو، سیاسیونو او کارپوهانو ته بلنه ورکوو چې په دې کنفرانس کې له موږ سره ګډون وکړي او نوموړي کنفرانس ته رسنیز پوښښ ورکړي.

موږ له الله سبحانه وتعالی څخه غواړو چې دغه کنفرانس د نړۍ لپاره د بصیرت او هدایت سبب وګرځي. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اسْتَجِيبُواْ لِلّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُم لِمَا يُحْيِيكُمْ]** [انفال: ۲۴]

**ژباړه:** *اې ایمان راوړونکو! د الله تعالی او د هغه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم بلنې ته لبیک ووایاست چې کله پیغمبر صلی الله علیه وسلم تاسو د هغه شي په لوري بلنه درکړي چې تاسو ته ژوند بښونکی دی.*

**حزب التحریرـ ولایه تونس مطبوعاتي دفتر**